مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۴/۰۲/۱۷

# ښاغلی «استازی»!

کلکه پرېکړه مې وه، چې بیا به چاته سیاسي لیک نه لیکم. خو ستا له تناقضاتو ډکي څرګندوني دومره زیاتي شوې، چې نور راته چوپ پاتېدل ګناه ښکاري. ستا له تناقضاتو ډکي او وارخطا اوتي بوتي ښيي، چې د افغانانو شعور ته په سپکه ګوري، فکر کوې افغانان په هیڅه پوهېدلای نه شي؟

ستا تناقضات ستا له کتاب «استازي» څخه راپیلیږي. په کتاب کې دې لیکلي، چې ګواکې مور دې تل دا سپارښتنه درته کوله، چې افغانستان او افغانانو ته خدمت وکړې...

### خدمت دې وکړ؟

خو اوس، چې هرڅوک درنه پوښتي، ولي دې افغانستان سقوط کړ؟ ولي دې د زرګونه افغانانو ژوند او د افغان ښځو او نجونو تعلیم د امریکا د ګټو قرباني کړل؟ په سپینو سترګو ورته وایې: زه د امریکا مامور وم، زما ماموریت د امریکا د عسکرو او امریکایي ګټو خوندي کول وو...

دا ضد ونقیض ویناوې دې چیغې وهي، چې یا دې په کتاب کې په خپلې اروابنادې بیولوژیکي مور پسې دروغ ویلي او یا اوس په خپلې معنوي مور(وطن) پسې دروغ وایې. که څه هم ستا لپاره به ستا موروطن امریکا وي.

مورې له اوله پوهېدو او هماغه وخت مو لیکلي هم دي، چې د «بمونو مور» باندې راسپور استازی د افغان او افغانستان د ګټو لپاره راروان نه دی.

### بل تناقض:

له یوې خوا په پوره وقاحت وایې، چې ستا لپاره د امریکا ګټې لومړۍ دي او امریکا پرېکړه کړې وه، چې په هرقیمت باید له افغانستان څخه وځي، ځکه د یوکراین جګړه پیلېدونکي وه. خو له بلې خو هره ورځ رسنیو ته ورمنډې وهې په کرکېچو پارسي یا انګریزي لګیا یې، چې ګواکې د افغانستان ولسمشر او ملګري یې د سقوط لامل شول؟ که د افغانستان خلکو ته وایې، چې ستا یې د افغانانو له بدمرغۍ سره کار نشته، ځکه د امریکا مامور یې، بیا نو دومره مرکو او مامهزالیو ته اړتیا څه ده؟

لکه د امریکا زرګونه نور مامورین غلي کېنه او د افغانانو په زخمونو مالګي مه شینده.

د امریکا امریکایي‌الاصله مامورین هیڅ د دې پروا نه لري، چې په افغانستان کې د دوی په اړه خلک څه فکر کوي؟ خو له تاسره کومه پټه اندېښنه شته، یا دې هغه ضمیر ځوروي[ چې نه یې لرې] او غواړې د افغانانو په ذهن کې ځان سپین کړې، دا سپیناوی نه کېږي، ځان مه ستومانوه !دلیل به یې زه دروښییم؛ له وسلو او پیسو پرته د شاوخوا څلویښتو میلیونو افغانانو په نظر کې ځان وتله، سروې وکړه! په حیرانتیا به وګورې، چې ټول څلویښت میلیونه افغانان (طالب او ناطالب، لوستی او نالوستی) دې د خپلې ملي بدمرغۍ اصلي مسئول بولي او ټول درڅخه کرکه لري. هیڅ مرکه به دې افغانانو ته سپین نه کړي. خو که غواړې خپلو خلکو (امریکایانو) ته ځان سپین کړې، نو دې ته خو اړتیا نه شته، ځکه تا خو – ستا په ژبه - خپل امریکایي ماموریت په بهترینه بڼه ترسره کړی دی او هغوی درڅخه خوښ دي.

### بل تناقض:

یوځای وایې، چې امریکایان په دنیا کې د نورو لپاره د بشري حقونو او دیموکراسي د تأمین مسئولیت نه لري. بالکل سمه ده، نه یې لري. بیا نو هغه مهال، چې په افغانستان کې د امریکا سفیر وې، زرګونه ځله دې ولي دروغ ویل، چې د افغانانو لپاره د ښځو تعلیم، بشري حقونه او دیموکراسي غواړې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولۍ

يا خو نن درواغ وايي يا دې هغه مهال درواغ ويل. راځه په يو ځل درواغو اعتراف وکړه، نه افغان، نه امريکايي بلکې ښايي د يوه انسان په توګه به دې خپل مسئوليت ادا کړی وي.

«زلمی» وې، چي افغانستان دې د اووهسري ښامار داړو ته کېناوه او اوس بيخي بوډا يې، نه پوهېږم لاهم کومي سياسي راتلونکي ته په تمه يې او هڅې کوې؟ اوس به وايې: په سياست کې اخلاق نهشته، سياست عاطفه نه پېژني، او د زور اوبه مخ پورته ځي!

**بل تناقض:**

وايي: په دوحه کې طالب مشرانو ژمنه درسره کړې وه، چي دوی به د ښځو حقونو ته درناوی کوي. ان دا چي دوی به ښځي وزيراني هم وټاکي. اوس نو چي دوی خپلې ژمني نه عملي کوي، ته بيچاره څه کولای شې؟ په دې کې خو ته ملامت نه يې! دا خو دوی دي، چي خپلې ژمني نه عملي کوي. بس همدومره ساده.

نو کله چي د افغانستان ولسمشر وار وار ويل، چي مخالفان بدل شوي نه دي، بلکې لا افراطي شوي دي، کله چي لسګونو افغان روښانفکرانو ويل، ليکل او تکرارول، چي هيڅه بدل شوي نه دي، بلکې لا بدتر شوي هم دي، هغه مهال دې غوږونو او ماغزو څه ستونزه لرله؟

د امريکا سياست که هرڅه و، خو تا شخصي عقدې وپاللي او يو ملت دې د خپل شخصي ضد قرباني کړ.

**بل تناقض:**

وايي: که ولسمشر وتلای نه وای، نو واک به رسماً لېږدول شوی وای. يعني څه؟ رسمي واک لېږدولو به د اوسني وضعيت کوم ځای بهتره کړی وای؟ غواړې څه ووايې؟ « د واک مشروع لېږد» څنګه تعريفوې؟

بل ځای وايي، چي ولسمشر او ملګري يې پر خپلو ارزښتونو ونه درېدل، يعني بايد په کابل کې يې روستۍ جګړه کړې وای؟ دغه ځای لږ روښانه کړه، هيڅوک نه پوهيږي، چي ستا نقشه څه وه؟ څه کېدونکي وو؟

راځه د خپل ايډيال مشر رونالدټرمپ په شان کټر، کورټ او سپين وغږېږه او افغانانو ته ووايه، چي: ته يو امريکايي مامور وې او تا ته د افغان و افغانستان هېڅ ګټه، ښېګڼه او حق مهم نه و، د خپلې ارواښادې مور وصيت دې يوازې يو سياسي - تبليغاتي دروغ و. خپل ماموريت دې ترسره کړ او افغانستان دې پرېښود، بس خلاص!

روستني دهقاني منطق دې بيا له ګڼو خلکو سره نوې وسوسې زيږولې، ګواکې ويلي دې دي، چي: د امريکا کيسه لا په افغانستان کې پای ته رسېدلې نه ده، يو بل فصل لا پاتې دی او هغه «ارزښتونه!!!» چي تا کرلي وو اوس به حاصلات کوي؟!

الله ج دې خير پېښوي.

تا د رونالد ريګن له زماني څخه د افغانستان لپاره درې فصله زهرجن زقوم کرلي او حاصل ته رسولي دي. نوې انديښنه دا ده، چي دا نوي کرل، ريبل به دې څه وي؟ په دې نوي او مبهم فصل کې به دې د افغانستان لپاره څه مصيبتونه درمند کړي وي؟ دا ځل به څه غم راوړې؟

«کرميه! چي غم نه وي ته غم راوړې

کرميه! که زما په دعا کېږې

کرميه! په لم غوټه سپرو واوړې...!»

هو، ريښتيا:

کرمی پېژنې؟

د پټې خان و رابيا د نکل په اړه دې څه اورېدلې؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ